**ليکونکی: ريبيکا گوردون(Rebecca Gordon).**

**منبع او دخپريدو نيټه : کمان ډريم «17-1202020» .**

**ژباړونکی : پوهندوی دوکتور سيد حسا م «مل» .**

---

# د سپټامبر د يولسمی نيټی څخه نژدی شل کا له تيريږي آيا مونږ کولای شو چي په پای کي خپل مزل ددي ناورينی په لور ودروو ؟

*It’s almost twenty years since 9/11 :can we finally stop marching to disaster*

*له دوه لسيزي وروسته ،آيا په کلکه بالاخره کولی شو پوښتنه وکړو چي آيا له يو امپراتوری څخه چي پخپله دمرګ په حا ل کي دي ،زمونږ هڅی اواند دهغه دساتنی لپاره په واقيعت کي به ددی موجب وشي چي مونږ يا په واقيعت کي ټول نړی به په امن کي وساتي ؟*



**هيڅ شي د«جو بايدن» په کار نامي اويا تاريخ کي داسی څه نه ښيی چي هغه يا دمخه کوم يو څوک چی هغه پخپل ملي امنيت ټيم کي راګما رلي يو څه لږ ليوالتيا د دغه ديموکراتيک جمهوريخواه د پيما ن بی ثبا تی ته ولري[photo:Ron Adar/echoos,wire/Barcroft media via Gotty images]**

*دا دکال (۲۰۰۱) داکتوبر*

*دمياشتی پاي وه ، دواړه ملګری **ماکس ايليوم** او **باب وينګ** همدا اوس تازه تر ځنګ شوی وو (هوکی هلکانو داچي باورکوی يا نه کوی ، خلک مخکي وختونو کي بی له ماسک يو دبل سره مخامخ کيدل ) دوی راغلی وو چي ځما او ځما شريک **جان آدمس** سره خبری وکړي دنورو شيانو په مينځ کي **ماکس** غوښتل چي دخپل همکار **جان ادمس** څخه د خپل پښيی د درد اودپړسوب دليری کولو لپاره دپلستر دلږولو لار ښونه تر لاسه کړي ،مګر دا زر څرګند شو چي هغه **باب***

**وینګ** دماښام لپاره لوی اجندا درلوده ، دوی لیواله وو چي مونږ ته نوی پروژه وګماري. او په ورته توګه دجنګ وخت (دنظر داختلاف پړاو) وړیا په دوه ژبونکي (دوزبانه) دجنګ ضد تبلیغات پیل شی چي پخپل اوج کي وو کوم چي هر(شپږ) هفتی (سل زره) کاپی یا نسخه د (700) څخه زیات ضد جنګ سازمانونه ته دهیواد د ننه په سرتاسر کي باید توزیع کړل شي- هغه مونږ څلورو نفروته ښه ښکاره اومعلومه وه ،همغسی چي ملیونونو خلکوته دنړۍ په هر ګوټ کي معلوموو ، چي د سپټامبر (یوولسم) نیټی ترهګریز بریدونه به دمتحده ایالاتو دنوی لوي پروژی لپاره دپلمي چمتو کول وو ،حتی امریکي غوښتل چی خپل نظا می د ځواک توان نړۍ ته وروښیی اونوی نسل ته د (هروخت جنګ) لاره پرانیژی ، د جنګ وخت war time دهغه شیبي یوه پروژه وه ،( که څه هم چي دانوم به نن ورځي ته هم منا سب یا پر ځای وي ، په دي شرط چی دا جنګونه هیڅکله هم پای ته نه دي رسید لي ) دا به په څوکلونو کي دانترنیت او ( ۲۴ ساعته خبری سیکل کي به شدیداً ځای ولري ، بیاهم دا دهغه ځای د ډکولو لپاره د لمړني هڅی استازیتوب کوي ، چیری چي دسولي غورځنګ به بالاخره وده وکړي.

## ټول خلک د ټول وخت زمونږ د ځنو لپاره :

مونږ په بشپړ ډول سره دا حق لرل چي ووایو اوهغه داچي متحده ایالاتو« دهر وخت جګړي » پړاو ته ور دننه شوي ، دسپټامبر له یوولسم نیټی څخه راهیسی دهغو لپاره کومچي ددي نیټی څخه را وروسته زیږید لي دي یو څه ستونزمن دي چي تصور وکړي چي له دي نیټی څخه په څه کم اندازه اویا په څه مقداربدلونونه رامینځته شوي . دهمغه میاشتي په پای کی دغه هیواد (متحده ایالات) دخپل دښمن پر ضد په جګړي لاس پوری کړي وو چي د هغه هیواد د هغه وخت د دفاع وزیر « دونالد رامسفلد» مونږته وویل : نه یواځی په افغانستان بلکه په (50) یا (60) نور هیوادونوکی په آساني سره باید تصفیه راوړل شي . یعنی چی هیوادونه منحل اویا فلتر شی.

پنځه کال اوددوو نه ختمیدونکو جنګونو څخه وروسته هغه یعنی دامریکی ددفاع وزیر چي په هغه وخت کي هغه څه چي جګړه دتروریزم پرضد ونومول داسی توصیف وکړ :چي دا دسړي جګړي په څیر یو ډولی نسلی نښتي او مخالفتونه دي کوم چي دهغه پر وړاندي څو لسیزو لپا ره با ید مبارزه ترسره شی چي په ګډه سره د نړی په سرتاسر کي دتروریزم ریښیی یا زړي له بیخه وویستل شي کوم چي هغوی غواړي دافراط ګراییی په سلوک سره نړۍ اداره کړي .اوس یونسل وروسته داسی ښکاري چي (رامسفلد) په حق وو ، که چیری د نړیوال دښمن دهیلو په اړه نه وي نو د مبا رزي دمودي په اړه اړه

مونږ دلته په متحده ایالاتو کي ډیر زرعا دت کړي چی په (جنګ کي) اووسو،په لمړیوڅو میاشتو کي لاروی یا مسا فران د ښا ر په د ننه بسونواو ریل ګاډی کي دیو ډول نوي بی مفهوم «امنیتی تیا تر» سره مخامخ کیدل [کوم چي په هوایی ډګرونو کي لاتراوسه د هغو سره مخامخ کیږي ] زه هغه اوږد ماریپچي تیاره لینونو ته اشاره کوم چي په هغه کي خلک لمړي زده کړ چي څرنګه خپل کمربندونه او کوټونه (کرتي) له ځانه لیری کړي یا له ځانه اوباسي ، اوبیا وروسته خپل خولي او بوټان ، لکه چي تل نوی کالي یا جامي په احتمالي بڼی سره د چا وديدونکي موادو وسیله ګڼل کیده، کوم چي له نیکه مرغه دحمل ونقل دسازمان کارکونکی داسی کوم تر کالیو لاندی چوونکي بمب تر لاسه نکړ ، کوم چي مسافران دی په راتلونکي کي خپل کالی له ځانه لیری کړي ، مونږمخکي عادت لرل چي خپل دڅښلو دری اونسه تش قطی چیری لیري پر ځای کړو (اما وروسته له دي البته چي نه ) یا خپل هغه کڅوړي چي (1/4) د ګلن ظرفیت ( نه لوی او نه هم کوچنی) لرل .

دجنګ جګړی په ټول موده کي اما بیا په ځانګړي بڼی په هوایی ډګرونو کي کوم چي یو ځل دګولی چلولو جګړه دوام وکړ چیری چي تا سي دالوتکي پواسطه سره مو افغانستان اوعراق ته نه تللی ، یا چي تاسي څوک نه لیږل ، په سختی سره مو په یاد راتلل چي مونږ دجګړي په زمان یا

وخت کي یوو، یا داچي دنړۍ په سر تاسر کي د(سی آی ای) د شکنجي ورکولو دسایټونو افشاګری په نظا مي زند ا نونو کی وحشیګري لکه د ا فغا نستا ن د **بګرام** یا په عراق کي **دابو غریب** دامریکایی ځواک په زندانونو یا له وحشته ډک محاسبو کي اویا لا تر اوسه په کوبا کي دګونتانامو په زندان کي ، البته چي په چټکۍ سره په سلونو او وروسته په زرونو د عراق او دافغانستان جانبازان دبی کورو نورو په مخکینۍ جګړو کي برخه نیونکي جانبازانو په مینځ کي دامریکي په سر تاسر کي خپل ځای تر لاسه کړ یا چي په کور شو کوم چي تقریباً هغوی دچوپړ سازمانونو تر پاملرنی لاندي پړی ونه وتل .

هوکي، جنګونه د لوړ مصارفاتو سره دوام وکړ ، مګر په دي هیواد کي هغه کوم ځانګړي اغیزی نه لرل . هغوی چي ځنی نوی نومونه لکه «اوږد جګړی» ، (لکه همغسی چي په کا ل «۲۰۱۷» کي د «**دونالد ترامپ**» ددفاع وزیر « **جیمس ماتیس**» بیان کړ) یا (ابدی جنګونه) ،هغه عبارت چي لا تراوسه شتون لري ، چي دهیواد په هره برخه کي دهغه اوصاف تر سترګو کیږي اما جدا له هغه چي د سپټامبر دمیاشتی کال (۲۰۲۰) پوری دجګړو اقلی ما لی لګښتونه تر (۶،۴) تریلیوندالر اټکل کیږي . کوم چي که چیري دغه اندازه پیسی د هیواد په دننه کی دروغتیا یی مراقبتونو، زده کړي زیربنایی جوړښتونو اود نابرابری د له مینځه وړلو لپاره پکار وړل شوی واي کافی پیسی وو، یا داچي دداخلي پولیس دځواکونودرامینځته کیدو کوم چي په حا ل د ودي سره هغوی نظا می کیږي اوهم د پنټاګون له طرفه مسلح کیږی هغه څه دي چي اوس تر سترګو کیږي ، حا ل داچي جنګونه دتل لپاره دامریکایانو پر ژوند باندي په ښکا ره بڼی سره اغیزی نه لري .

البته که چیري تاسي په نا ځاپي بڼی سره چیری په کوم ځا ی کي مو ژوند کړي هغسی کوم چي دغه هیواد تیر (۱۹) کلونو په موده کي جنګیدلي نوپه رنو سترګي ګوریی چي حا لات یو څه متفاوت شوي ، دعراق بادی کونټ (د جسدونو شمیرنه) له مخي چي په تخمیني ډول سره اټکل شوي ، یوازی په دي هیواد کي دملکی وګړو په مینځ کي تاوتریخوالي دمرګ ژوبلي لامل کیږي ، چي د **برون** دپوهنتون دراپور له مخي دلته د (۱۸۵۴۵۴) څخه تر (۲۰۸۴۹۳) کسا ن خپل ژوند دلاسه ورکړي دي ، کوم چي ځنی ددي یاد شوي ارقامو څخه دتلفاتو شمیر لا نور هم زیات دی .

یا داچي څو برابر غیر نظامي عراقیان د جنګ له امله په غیر مستقیم بڼی سره خپل ژوند دلاسه ورکړي دي ، لکه دغذایی موادو کمی یا له کمبود ، روغتیایی مراقبتونو ته نه لاس رسی د ناروغیو شیوع ،سوي تغذي اوداسی نورو نامساعدو شرایطو له کبله ، کوم چی ددی تولو نا خوالو اونامساعدو شرایطو څخه دیو قوی ارادی په لرلو سره مخنیوی کید ل څه ستونزمن کار نه وه .

او دا یوازی عراق نه دي چي هلته خلک خپل ژوند دلاسه ورکړي ،بلکه یو ځل بیا دجګړی د تکتیک دپروژی په وینا په عراق ، افغانستان ، یمن سوریه او پاکستان کی لږ تر لږه (۸۰۰۰۰۰) دمستقیم جنګ جګړی له امله وژل شوی دي .

البته بر سیره پردي ډیر نور خلک ټپیان یا معلول شوی هم دي ، په متحده ایالاتو کي دآنلاین ښونځی منفی اغیزي په اړه ددی هیواد خلک په ریښتینی ډول اند یښمن دي،چي د رواني( **کوبید نولس** ) بحران « په ځانګړي توګه بی وزلي ماشومان او رنګین پوستو ټولنه کي» تصور وکړي، نو یوماشوم چي د خپل کور او خپل هیواد په د ننه کي هم تعلیم اوهم خپل مور او پلار دلاسه ورکوی نو ددی داغیزی له امله به څه حالت ولری ؟ یا له خپل کوره بی ځایه شوی اود کډوالو په کمپونو کي ځاي په ځای کید نه هغه څه دي چي ددوامدار جګړي له امله نوموړي ستونزی نه یوازی چي له مینځه نه دي تللی بلکه لا پسی د ودي په حا ل کي دي .، چي دا پخپله د نسلونو جنګ نومیږي ، هر یو د (۲۹۷۷) ژوند بایلونکو څخه چي د سپټامبر یوولسم نیټه په کال (۲۰۰۱) کی خپل ژوند دلاسه ورکړ، ژوند یی بی نظیر اوارزښتمن وه ، اما متحده ایالاتو دهغه په وړاندي ډیر نا مناسب عکس العمل وښود ، کوم چي مونږ دجګړي دوخت تهداب ایښودونکی کیدلی شو کوم چي که تصور مو کړی وای چي کلونه مخکي داکتوبر دمیاشتي شپی وه .

زمونږ هغه جنګونه تقریباً دوه لسیزه کیږي چې دوام لري ، ددې جنګونو هر یو میتا ستا ز (سرایت یا تیتید ل )د **جورج د بیلو بوش** او وروسته د **«بارک اوباما»** لخوا مخته وړل شوی ،کوم چې هغوي دسپتامبرد یولسمي نیټې څخه کوم چې کنګره د نظامی ځواک څخه د استفادي یا دپکار وړلو مجوز تصویب کړله دی مجوز څخه ګټې تر لاسه کړی کوم چې ددې جګړې هریو نوی میتاستاز ته یو لړ نوی توجیهات ورکړی دي ، اود خلکو ژبه یا څه وینه دسپتامبر دیو لسمې نیټې دنه بیا له سره پیښیدو لپاره په نظامی ځواک باندې بډه کول بیاهم همغه مخکیني لوبغاړي په بر کی نیسی کوم چې داسې ویلی شو :

هغه داچې ولسمشر ددی واک لري چې دهغه هیوادونو ، سازمانونو ، یا داشخاصو په وړاندې ټول اړین اومنا سب ځواک وکاروي، کوم چې که چیری هغوي دتروریستي بیښو دترسره کولوپلان ولری. یا دورته سازمانونو یا اشخاصوله خوا دمتحده ایالاتو په وړاندې دنړیوال تروریزم د راتلونکو کړنو دمخنیوی لپاره لاس پکا ر نشي .

د «نظامی مجوز څخه دګټی » پورته کولو د محد ودیت سره سره دامریکی پر له پسی جمهور ریسا نو دنظامی اقداماتو د توجیهی لپاره کم تر کمه په (۱۸) هیوادونو کي خپل استفادی وکړل یا چې مداخله تر سره کړل ، انصا فاً کله چې **«بارک اوباما»** آمریکایی ځواکونه سوریی ته ولیږل او هڅه یې وکړ چې له کنګره څخه نوي مجوز تر لاسه کړي ، اما وروسته د خپل تش اوبی محتوی وضیعت ته یې پام شو ، اما اکثر جمهوریخواهان هغه تحریکول چې هغه په دي مورد کی چندان شه لوبی نشی ترسره کولی.

په کا ل (۲۰۰۲) دعراق دجنګ په درشل کی کنګره ددوم ځل لپاره د (نظامی مجوز څخه د ګټی اخیستو ) مصوبه تصویب کړل ، کوم چې جمهور ریس ته اجازه ورکوی چې مسلح ِځواکونه دیو لازم او ضروری منا سبت په پام کي نیولو سره دامریکا دامنیت دساتلو لپاره د ګواښونو په مقا بل کي عراق ته ولیږي . **دونالد ترامپ** په کا ل (۲۰۲۰) دجنوری په میاشت کي دهمدی مجوز څخه په ګټه اخیستو **( قا سم سلیما نی)** ایرانی مشهور جنرا ل د نورو (۹) نفرو سره یو ځای دامریکا یی بی پیلوته الوتکي په بمب ګذاری سره ووژل .

## دترامپ ګام (راتګ) په دننه کي :

په کال (۲۰۱۶) کی سوله غوښتونکو د **«هیلاری کلنتون»** اداری سره مقا بلي ته تیا ری نیولي وه ، کوم چې مونږ انتظار ایستل چې د«اوباما» د تل پا تي جنګونه نسخه وګورو، په ا فغا نستا ن کي د جګړي موج یا (څپی ) وغړید ل د بی پیلوتو الوتکو پواسطه سره دترور د زیاتید و عملیاتونه اوبیا په ځانګړی ډول دافریقی په وچه کي ، اما د سه شنبی په ورځ دنومبر میاشتي په (اتمه) کي دشپی لخوا د **(ترامپ)** په ذهن کي څه ګرځیدلي وو، کوم چې هغه ددې هیواد د تل لپاره د جنګونو دپای ته رسولو ژمنه وکړ . کوم چې دهمدي ژمني پر بنیاد سره ولسمشر شو. اودا ځکه چې هغه دخپل انتخاباتی مبارزي په دوران کي پردغه جنګونو باندي کلک نیوکي کړي وو ، او دا البته په دي معني نه وه چې مونږ ډیر چټک دسولي دګټی تمه ورڅخه ولرو ، سربیره پر هغه (دونالد ترامپ) دامریکي خلکو ته وعده ورکړي وه ، چې هغه د وران ویجاړ امریکا اوهم دامریکي دنظامي ځواک دبیا رغوني ژمنه کړي وو،لکه هغسی چې په کا ل (۲۰۱۹) کي پخپل مطبوعاتی کنفرانس کی وویل :

***« کله چې ما واک تر لاسه کړ ، حا لات ډیر ګډوډ وه ، زمونږ د پوځ یو جنرال څما د لیدو لپا ره راغي اوهغه ما ته وویل : صاحبه مونږ مهما ت نه لرو ، ما ورته وویل چې دا یو څه د ډار اود وحشت خبره دي ، کوم چې تاسی همدا اوس ماته مو وویل ، اما مونږ اوس زیات مهمات لرو کوم چې مومخکی نه درلود ».***

له هغه ځایه چې دامریکي دمتحده ایالاتو دکا ل دفاعی بودجه (۵۸۰) ملیارد دالر ده، ډیر لیري په نظر راځی چې دامریکي پوځ لپاره دا توان په لاس کي نه وي کله چې (ترامپ) خپل بیضوی

دفتر ته په سپینه مانۍ کي تشريف راوړي ، چی امريکي ګولي ونشی پيرود لي ؟ اما په هر صورت هغه څه چي (ترامپ) وکړ هغه دا وه ، چي دامريکي د کا ل (۲۰۲۰) دفاعی بودجه (۷۱۳) مليارد دالر ته ورساوه ، اوپه عين زمان کي هغه ددسامبر په مياشت کي په تهديد آميز بڼی سره ياده کړ چي هغه به دآمريکي دفاعی بودجه کال(۲۰۲۱) لپاره به (۷۴۰) مليارد دالرته به لوړ کړي ، او همدارنګه هغه غواړي چي دامريکي د پوځ جنرال پخپلو اړو کي خپل نظا مي ويا ړني وسا تي او همدارنګه هغه فکر کاوه چي دا قانون با يد د ټولنيز رسنيوو عمده شرکتونو لپا ره د مسوليت قواعد هم بد له کړي يعنی چي دعمده ټولنيز رسنيو سلوک او روش يعنی د هغه يو څه چي تاسي په عادی حالت کي دهغه تمه نه لري ، کوم چي هغه هم ددفاعي بودجي بل يا په لايحه کي د هغه رامينځته کول يا مطرح کول دی په هر صورت کنګرس دغه لايحه داکثريت په ويټو کولو سره تصويب کړل .

لکه همغسی چي په وروستيو کي **مايکل کلار** دپنتاګون کار پوه دی ته اشاره وکړ او وويل : ګرچه شايد دا يو ډول متناقض په نظر راشي کوم چي (ترامپ) غواړي چي له يوی خوا دآمريکي دفاعی بودجه لوړوی اودبلي خوا څخه دآمريکي دغه روان دايمی جګړي پای ته ورسوي ، يا دغه نامعلومه جګړه ختم کړي ؟ اماپه هرصورت په واقيعت کي دهغی دغه اقدام معنی لري ،جمهور ريس وړانديز کړ چي **مايکل کلار** د (۹/۱۱) له پيښی څخه وروسته کوم چی د پنتاګون د تمرينا تو مسوليت پر غاړه لري له هغه دندي څخه ګوښه اود آمريکي د پوځ د يو نظا مي محوری اداري مسوليت پر غاړه واخلي يعنی دهغه اداری مسوليت کوم چي څه کم اويا زيات د (۱۹) کا لو لپاره دپوځ دعا لی قوماندانی د **بوش** د کلونو په لمړيو کی ددفاع وزير (دونالد رامسفلد) لخوا ترتيب شوی يا په نظر کی نيول شوی ستراتيژی ته په کلکه سره رسيد نه کړي وو ، د يويا دوه سيمه ايزو قدرتونو په وړاندي [ دځمکنيو جګړو ظرفيت ساتل « دمحور شيطانی تفکر» دعراق ،شمالی کوريا اوايران ] ، په داسی حا ل کي چي په لړ شدت سره دتخنيکی له پلوه پرمختللی ځواکونه ځای پر ځای کوی ( البته ديو څه لوړ شد ت سره ) دتروريزم پرضد مبارزه کي، (۱۹) کاله وروسته ، کوم څه چي دهغه هد فونه ټينګ او با ثباته مينځنی ختيځ ، دتروريستی سازمانونو کمزوره کول وو ، اما دابلکل روښانه شو چي د **(رامسفلد- بوش ستراتيژی)** په کلکه ناکامه شو .

واضح ټکي چي نژدی دوه لسيزه وروسته پرته له کوم بريا ، پنتاګون په پراخه کچه پريکړه کړي چي نړيوال تروريزم له مينځه وړي اود شيبطان له غوماشو څخه خپل ځان خلاصوي نو دهغه په عوض کي متحده ايالات بايد د **(چين)** اود **(روسی)** دراپاڅيد و يا د پرمختګ په مقا بل کی ځان چمتو کړي ، حتی که چيری «چين» دهيواد څخه دباندي يواځی يوه نظامي اډی ولری يا داچی که « روسيه » داقتصادی له نظره دپطرو امپراتوری غوښتنی لرونکی بډايه دولت هيله ولري ، يا په بل عبارت ، متحده ايالات بايد په څو **دومينونو** کی لنډ ، مګر ويجاړونکي جنګونو ته چمتووالي وښيی ، په شمول د فضا (سيبريس سپيس )، ممکن چی **دايرو آسيا** وچه کی دتاکتيکی اتومی وسلو کارول هم شامل وی،دی مخي لپاره دغه هيواد واقعاً دخپل اتومي ذخيری لوی ترميم پيل کړي اود خپل بحری يا سمندري ظرفيت لوړولو لپاره د ( ۳۰) کالو نوی پلان اعلان کړ ، ولسمشر **(ترامپ)** په ندرت سره يو فرصت دلاسه ورکوی چي د (نوی) فضا ځواک درامينځته کولو هڅه وکړي .

په عين وخت کي آيا هغه يعنی **(ترامپ)** واقعاً خپله ژمنی پوره کړ ؟ او لږ تر لږه هغه تلپا تي جنګونه پای ته رسويي ؟ واقعاً چي « نه» يا داچي هغه ژمنه کوي چي د امريکي ټول سرتيري بيرته کور ته راولي ؟ حا ل داچي دا مريکي د د فاع سرپرست وزير **کرستو ميلر** په دي وروستيو کي وويل :چي مونږ هلته يعنی افغانستان کي شاوخوا خپل (۲۵۰۰) سرتيری اوپه ورته شمير سربازان په عراق کی هم پريږدو يا چی سا تو .او په دي هيله چي دغه پاتي سرتيري به هم د (می) د مياشتي کال (۲۰۲۱) کي به را وباسو( د کلما تو د رايا د ونـي په لړ کي ، هغه دغه جنګونه د **«با يد ن»** د راتلونکي دولت په لومه کی راښکيل کړ ).

په ورته وخت کي ددي جنګونو «پای ته رسيدو» په جريان کي د «ترامپ» اداری په حقيقت کي

په ا فغا نستا ن کې دهوایی بمبا ریوو لپا ره د ښکیلتیا قواعد نرم کړل چې د (ملکی تلفا تو) د پراخه زیا توالي لامل شو ، د جګړې د لګښت د پروژی دنوی راپور سره سم د **(اوباما)** اداری د تیرکا ل راهیسی د **(ترامپ )** د اداري په جریان کې ثبت شوی ارقام وروستی سرکال پوري هغه څه دي چې **نیتا کروفورد** لیکوال یادونه کوی چې په افغانستان کې دمتحده ایالاتو په مشري دهوایی بریدونو له امله تقریباً (۳۳۰) سلنه د ملکی خلکو تلفا ت زیا ت شوی دي .

سرتیره پر ګوښه کیدو دامریکې لپاره د (لمړی آمریکا) شعار چې په اوایلو کی زمزمه کید ل ، یا په بل عبارت جمهور ریس( دونالد ترامپ) دخپل ریاست په دوران کې دیو لړ ستر او غښتلی اداری د نظامی صنعتی مجتمع کوم چې نوی پانګونی ته ضرورت لیدل کیدل اراده لرل اوسره له دی چې د (نا تو) په وړاندي ضد شعارونه ورکول یا داچي وعده سپارلي وه چي هغه تقریباً (۱/۳) شمیر آمریکایی سرتیری په المان کی را تیتوی ، ا ما هغه په هیڅ بنه ددوهمی نړیوال جګړی د با ندی سیا ست پیما ن په دواړوګوندوړنوکي نقض نکړ یعنی هغه سیاست کوم چی دامریکی جمهوریخواهان اودموکراتان دواړه غواړی چی هغه ثا بت وسا تل شي . سره دهغه موجوده اختلاف نظر څخه کوم چي هغوي دداخلي شتمني یا دثروت په ویش کې دخپل تعهد له مخي دامکان ترحده له د بیلما سي حخه په ګټی پورته کولو سره پالیسی سا تي ، اما د لزوم په صورت کې دنظامی ځواک د لا ودي لپاره دواړه حزبونو سره همنظر دي اودا ځکه چي نظا مي ځواک د هغو د امپراتوري اودهغو د ثروت دسا تلو ضما نت کوي .

## اما اوس« جو با یډ ن »راځي :

د«۲۰۲۱ » کا ل دجنوری میاشتي په شلمه نیټه کې ( **جو بایډن** ) به د داسی یو هیواد ولسمشر شي ، چي په راتلونکي وخت کی به په ګډه په لسو هیوادونو کې دیوشمیر حسابونو له مخي به خپل واسله وال ځواکونو ته ځانګړی لګښتونه تر سره کړي ، هغه به دد اسی یو ملت مسو لیت په ارث وړي چي په (۱۵۰) هیوادونو کې د نظا می حضور سره اوبیا یواځی په (۲۲) افریقا یی هیوادونو کې دخپل ځا نګړي قوتونو عملیاتونو ته ځاي پر ځای کول دي ، هغه به په عراق ، سوریه ، افغانستان یمن ، او سومالیا کې دترور پر ضد دنه ختمیدونکي ژوری ناکامی جګړی نظارت کولو ته پریښودل شي او لکه څنګه چی د دفاع وزارت لخوا په عامه توګه راپور شوي ، دمتحده ایالاتوڅخه په بهر کې (۱۸۷۰۰۰) امریکا یی سرتیری وجود لري .

د (جو بایډن) په بیوګرافی یا تاریخ کی هیح داسی کوم شي نه په سترګو کیږي یا چي نه ښیی چی هغه داسی یو کوم ځوک کوم چی اوس پخپل ملی امنیتی تیم کې ګما رلي دي ددموکراتیک جمهوریت غوښتونکي امپرا توری تړون د بی ثباته کولو لپاره لیوالتیا ښودلي وي ، مګر امپراتوری ګا نې یواځی د میني اود نیت په لرلو سره دوام نه کوي ، دوی د تل لپاره دوام یا تیکاوو نه لری هغوی له حده زیات ځانته پراختیا ورکوي ، هغوی له دننه وراسته ( خوسا) کیږي ، .

که چیری تاسی د ډیر عمر خاوند یا ستي ؟ تاسو ممکن به په شوروی اتحاد کې دخوړو دتر لاسه کولولپاره دخلکو داوږدی لیکونو یا قطارونو په اړه اویا داستانونه په یاد ولري کوم چي دا دسړي جګړي له زوره وه . اوس تا سی کولی شي چي همدا نن ورځ دخلکو هغه قطارونه په متحده ایالاتو کې هر ه اوني یو ځل وګوري ! زمونږ ملګری ، زمونږ په ښا ر کې وږو خلکوته دخواړه پکیچ (بسته بندی) رسوی ،هغه ځوک چې خپل کورونه دلاسه ورکړي دي ، کله چي د **(اوباما)** دزمامداری په وخت کې دغه پاند یمیک ناروغي هیواد د بوړنونکی اقتصادی ظا لما نه نابرابری سره اوس دم درحال مخامخ کړي دي . او لا پسی نورهم تشدید کیږي ، ځکه چي ډیری خلک ساعتونه ، ساعتونه دیو بی پیسو خواړه دتر لاسه کولو لپاره په قطارونه دریږي .

شا ید چي د (۲۰۲۰) کا ل را مینځته شوي بوړنونکی حالات اورونه او توفا نونه کوم چي د **کوبید نولس** له امله رامینځته شوي د **(ترامپ)** شیطا نی یرغل به پر دموکراسی ، مرګ ، ناروغي او اقتصادی بی ځایه کیدو باندي به ددي موجب شي چي په کال (۲۰۲۱) کې د ملی امنیت په اړه

واقعي خبرو اترو ته لاره اواره کړي . شا يد چي دا ځل مونږ وپوښتو چي آ يا د مړه کيدونکي امپراتورۍ درامينځته کولو يا دهغه د پايښت ته زمونږ اودنړۍ هڅې واقعاً کولی شی امپراتوری خونډي وسا تي ، د ا د پوتا نسيل لپا ره ښه فرصت يا چا نس دي چي د هغه د پيل لپاره سره په خبرو اترو پيل وکړي اوبله لاره دا ده چي بی له هغه چي په دي مورد کي فکر وکړو پريږدو چي ناورين خواته په مخه لا ړ شو.

## دليکونکی په اړه ځو کرښی :

***بيکا گورډن*** *د ["امريکايي نيورمبرګ: د متحده ايالاتو چاروا کي چې بايد د 11/9 جنګ وروسته جرمونو لپاره محاکمه شي"] (2016) او مخکي ، **"د شکنجي اصلي توب:** د متحده ايالاتو په 11/9 کې اخلاقي چلند .( (2014) "هغه د سا ن فرانسسکو په پوهنتون کې د فلسفې په څا نګه کې درس ورکوي .هغه د جنګ ټايمز / ټيمپو دي ګيرس ګروپ غړيتوب لري ډاسو کولی شئ د اصلي شکنجې د ويب پا ڼې له لارې له هغې سره اړيکه ونيسئ.*

***=========================== په درناوی (۶-۲-۲۰۲۱)***